# په هرات کې دوه ملایان خپل مابین وژلي

د هرات ولایت په اوبې ولسوالی کې دوه طالب ځایي سرګروپان او ملایان د خپل مابین په چاودنه کې وژل شوي دي د هرات د والي وياند جيلاني فرهاد دغه پېښه تاييد کړه او زیاته یې کړه ملا کامران او ملا منير غوښتل چې امنيتي ځواکونو په لاره کې ماین کېږدي چې په همدې وخت کې یې پرې چاودنه کړې او دواړه ځای پر ځای وژل شوي دي هغه وايي، دغه طالبان د ملا نسیم مبارز د ډلې غړي وو او د اوبې ولسوالی په شاينان کلي کې یې افغان ځواکونو ته ماینونه ځای پر ځای کول

طالبانو په دې تړاو لا څه نه دي ویلي، خو په هرات ولایت کې له څو ورځو راهیسې پراخ پوځي عملیات پیل شوي چې افغان حکومت په کې دګېو طالبانو د تسلیمېدو خبر هم ورکړی دی


Ketabton.com

# غړي هېوادونه د افغانستان جګړې ته اندېښمن دي

ـي د دغه
او عراق
ـله خورا
ـو د ملګرو
ـي ولي
افغانستان

کې د ترورېزم قربانیان د پرې د بل هر هېواد په پرتله زیات دي. راپور زیاتوي چې القاعده او له دې شکې سره تړلي بهرني جنګیالي چې طالبانې ملاتړ کوي، د افغانستان لپاره اوږدمهالي ګواښ دی. داعش بله ترورېستي ډله ده چې په راپور کې د افغانستان لپاره

لوی خطر بلل شوی دی. دې ډلې که څه هم په ننګرهار ولایت کې چې اصلي مرکز یې بلل کېدا، لویه ضربه ولیده، خو د ملګرو ملتونو د کارپوهانو راپور وايي، داعش ډلې ښځوا ثابته کړې چې ارتجاعي خاصیت لري، نو ځکه لا هم جدي ګواښ دی



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**